بسم الله الرحمن الرحيم

## د نصوصو په پوهه کې د عقل څخه کار اخيستنه

## د امام ابوحنيفه رحمه الله او د هغه د فقهي مدرسی نمونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ»ژباړه:« دا يو ډېر برکتناك کتاب دی چې موږ تا ته (اې پېغمبره) نازل کړيدی، تر څو چې دوی د ده پر ايتونو غور وکړي او د پوهي او فکر خاوندان ترېنه درس واخلي.»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

د اسلام مبارک دين عقل ته ډيره پاملرنه کړی ده ځکه چې عقل د مکلفيت پوری اړه لري او د عقل ساتنه د اسلامي شريعت د مقصدونو څخه يو لوي مقصد ګڼل کيږي او همدارنګه د شپږو کلياتو څخه يوه برخه ده چې په اسماني شريعتونو او اديانو د هغه په ساتنه کې اتفاق کړی دی.

الله جل جلاله مونږ ته لارښونه کړی ده چې د عقل څخه کار واخلو او فکر او غور وکړو د نړی او جهان د عقل لويه وګورو ترڅو د هغه په لوړوالي باندي او همدارنګه د الله جل جلاله په وحدانيت باندي پوه شو لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ» ژباړه:« د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښاني دي:» او په بل ځاي کې فرمايي:« وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ» ژباړه:« او د هغه له نښانو څخه د اسمانونو او ځمکي پيدايښت او ستاسي د ژبو او رنګونو بېلا بېلوالی دی. په باوري ډول پدې کښي د پوهانو لپاره ډيري نښاني دي.» همدارنګه که چيرته يو څوک د قرآن کريم ايتونه وګوري نو وبه ګوري چې قرآنکريم په عقل باندي هڅونه کړی ده او د عقل او د فکر څخه د کار اخيستني بيلابيل شکلونو باندی هڅونه ترسره شوی ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ»ژباړه:«ددی لپاره چې تاسی په ښه شان پوه شئ.» ،

«أَفَلَا تَعْقِلُونَ» ژباړه:«آیا تاسي له پوهي څخه هیڅ کار نه اخلئ؟» ، « لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ» ژباړه:«د هغه خلكو لپاره چې د پوه څخه كار اخلي»، « لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه:« د هغو خلكو لپاره په ډاګه څرګنده وړاندي كوو چې فكر كوونكي پوهېدونكي دي» ،« لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ» ژباړه:« د هغو خلكو له پاره څرګندي كړيدي چې پوهه او ادراك لري.».

اسلامي شریعت كې كه څوک فكر وكړي وبه ګوري چې اسلامي شریعت علماء دیته هڅولي چې په اجتهاد او د شرعي احكامو په راویستلو كې چې د تفصیلي دلیلونو څخه راوباسي د عقل څخه كار واخلي ترڅو د خلكو لپآره د هغو د ژوند چاري اسانه شي او د هغوي ژوند په خه ډول سره پرمخ ولاړ شي خو په عین وخت كې اسلامي شریعت د شرعي ثوابتو هم ټینګار كړی دی چې هغه ته باید زیان ونه رسیږي پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایي: كه یو حاكم حكم كوي او هغه اجتهاد وكړي او د هغه اجتهاد سم وي نو هغه لپاره دوه اجره دي او كه حكم وكړي او اجتهاد وكړي او هغه خطا وي نو هغه لپاره یو اجر دی.

بی شكه چې امام حنیفه رحمه الله د حنفي مذهب خاوند دی او ډیر لوي او مشهور مذهب دی او همدارنګه د نصوصو په پوهه كې د عقل څخه د كار اخیستني د مدرسی رامنځته كوونكي دی الله جل جلاله هغه ته ډیر لوي عقل وركړي وو هغه مكلف نه وي او یوازي د نص ظاهري اړخ ته یی نه كتل بلكي د هغه مقصد او مرام ته یی كتل نو له همدي لپآره امام ابوحنیفه رحمه الله د نصوص سره په چال چلند كې  دعقل د مدرسي رامنځته كوونكې وو علماؤ د هغه په هكله ویلي دي چې په فقه كې خلک امام ابوحنیفه رحمه الله ته محتاجه دي.

امام ابوحنیفه رحمه الله پخپل فقهي مدرسه كې د زمان او د ځاي اود خلكو د احوالو او طبیعتونو مراعت كړی دی هغه ټولو ادله و كې ډیر زیات د قیاس احتحسان اود عرف څخه ګټه پورته كړی ده او پدي كې اعتماد په معاذ رضي الله عنه پدغه حدیث كړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم كله هغه یمن ته لیږلو وی فرمایل چې په څه شي باندي به فیصله كوي هغه وفرمایل د الله جل جلاله په كتاب  پیغمبر صل الله علیه وسلم وفرمایل كه په هغه كې د څه پیدا نكړل هغه وویل د پیغمبر صل الله علیه وسلم په احادیثو باندي هغه ورته وفرمایل كه هغه كې پیدا نكړی هغه وویل زه به اجتهاد كومه پیغمبر صل الله علیه وسلم وفرمایل: د الله شكر دی چې د الله د رسول استازی د الله جل جلاله د رسول د خبرو سره برابره خبره كوي ددی ترڅنګ ځیني نور احادیث هم شته چې د نص په پوهه

باندي د هغه څخه د کار اخيستني هڅونه کوي خو دا بايد دشريعت د عامو مقاصدو په چوکاټ کې ترسره شي.

******

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

ټول اديان ددی لپاره راغلي وو ترڅو خلکو ته خوښي وبخي نه دا چې هغوي ته بدبختي لکه چې الله فرمايي:« طه * مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى» ژباړه :« طا ها* موږ دا قُرآن پر تا باندي ددې لپاره ندی نازل کړی چي ته په کړاو اخته شې.» او بيا فرمايي:« وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَـرَجٍ » ژباړه:« او په دين کښي يې پر تاسي څه تنګي نه ده راوستې» او بيا فرمايي:« يُرِيـدُ الله بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ» ژباړه:« الله پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي، »، پيغمبر صل الله عليه وسلم د دوو کارونو منځ کې به که چې کله اختيار ورکړی شو هغه به هغه اسانه غوره کولو ترهغه پوري چې په هغه کې ګناه نه وه او که چيرته ګناه وه نو پيغمبر صل الله عليه وسلم په خلکو کې ترټولو ډير به د هغه څخه ځان ساتلو نو د همدي لپاره د ضعيف نصوصو په پوهه او تطبيق کې بايد له عقل څخه کار واخيستل شي او همدارنګه د شرعی احکامو په تطبيق والي کې هم بايد د عقل څخه ګټه پورته شي.

همدارنګه مونږ پدي باندي ټينګار کوو چې علماء او فقهاء بايد د خپل عصر او د زماني د احوالو او د نوي پيدا کيدونکو حالاتو پاملرنه وکړي او د خلکو د عاداتو او تقاليدو ته پاملرنه هم وکړي ترڅوهغوي وکولاي شي فتوا په سمه توګه ورکړي پداسی حال کې چې د خپل عصر او زماني حالات و کتنه يی هم کړی وي نه دا چې دوي د نورو عصورو او د زمانو د احوالو سره سم فتوا ورکړي څوک چې فتوا ورکړي او د خپلي زماني واقعيتونو ته ونه ګوري او همدارنګه د ځاي حالات ونه ګوري او همدارنګه د خلکو د ژوند چارو ته ونه ګوري نو دا فتوا ددی لامل کيږي چې خلک د مشقت او د سختی سره مخامخ شي پداسی حال کې چې زمونږ اسلامي شريعت په اساني او سهولت باندي راغلی چې د خلکو څخه سختي لري کوي.

**الله د مونږ پخپل دین باندي پوه کړي او زمونږ هیوادونه اوږ د نړۍ ټوول هیوادونو ساتنه وکړي**